# د پښتو ژوندي کلمات په پخوانۍ فارسي کښي

پوهاند عبدالحی حبیبی

يو څو ورځي دمخه کوم فرنگی پوهاند کابل ته راغلي و، په راديو کښي مي وارويده چه ده د پوهنتون په يوه فاکولته کښي زده کونکو ته وينا کوله او ويل ئې:

"د پښتو په کومک به د اوستا او پخوانو ژبو ډير مشکلات حل شي..."

دا خبره ډيره پخه ده، او بايد اوس دا ومنو چه ختيځ پوهني او د استشراق فن به هغه وخت بشپړ شي، که د ژبو پوهان او فيلالوجستان د هند او آرين ژبو په پلټنه او څيړنه کښي پښتو هم زده کړي، او د دې ژبي د معلوماتو به سيوري کي خپل مطالعات پوره کاندي.

په حقيقت کښي پښتو د هند او ايرانی ژبو تر منځ يوه منځنۍ کړۍ ده، اوکه څوک سنسکريت او نور هندی پراکريت او اوستا او زړه پاړسو او سغدی او ختنی ژبی ټولي زده کړي، خو له پښتو څخه ناخبر وي، قطعاً د هغه معلومات نه بشپړ کيږي، او نشي کولاي چه د دغو پخوانو ژبو روابط او د نښتون وسائل ومومي.

پښتو د دغو ژبو منځني حلقه ده، اوکه دې ژبي ته د پخانو کلماتو او الفاظو يو موزيم ووايو بې ځايه به نه وي. ځکه چي پښتو ډير پخواني آريائي اصيل او سټيز کلمات ساتلی دي، او اوس چه مور گورو، ډير پخواني الفاظ تر اوسه په دې ژبني موزيم کي محفوظ پراته دي.

نو د علمی تحقيق او ژبني تلاښ لپاره حتماً د پښتو مطالعه بايد وشي، چه د دې په کومک ډير مشکلات حل کيږي، او ډيري ورکي ميندلي کيږي.

دلته به زه د دري فارسي ځيني کلمات د پښتو په اوسنيو اشکالو کي در وښيم.

## کټ

دا کلمه په فارسي دري او قديم ادب کي موجوده وه، او په اوسنۍ ژوندۍ پښتو کي هم کټ شته يعني تخت او چارپائي. د پښتو په ديرو او حجرو کي ضرور کټ وي، او خلق پرې کښيني.

د دري فارسي يو ډير پخوانی شاعر بوشکور بلخي (د ۳۰۰هـ حدود) دا کلمه په يوه بيت کښې داسي راوړي:

زورا رمرز دست شاها شاد زی!

بر کت شاهی نشين و باده خور

فرخي سيستاني د سلطان محمود په مدح کي وائي:

که بر خون برانم کت و افسرت

برم زی سر اندیب بی تن سرت

خو داسي ښکاري چه وروسته دکټ پر ځاي د تخت کلمه ودريده، اوکټ په غرو او ميروکي پښتو ته پاته شو. چه تر اوسه هم په هره ديره او حجره کښي پروت وي، او خلق پرکښېني.

پيل

يو وخت جه ما د اکلمه دکتاب د سريز او ديباچې پر ځاي استعمال کړه، ملګرو زه پسې واخستم، چه دا پيل له انګريزی فيل څخه غلا شوئ دئ خو زما استناد دکندهاريانو عمومي محاوره وه او تر اوسه دا وايم چي پيل اصيله پښتوکلمه ده. ځکه له دغي ريښې څخه پيلات او پيلامه هم سته تاسي وګورئ داکلمه د هغه بلخی بوشکور په آفرين نامه کښي داسي راغلې ده:

مر اين داستان کش بگفت از فيال

ابر سيصد و سی و سه بود سال

دا فيال هغه د پښتو پيل دي دا د آغاز او ابتدا معنی لري.

هاژ

د دغه بوشکور په يوه بل شعرکښي هاژ راغلي دي وائي:

ديو بگرفته مر ترا بفسوس

تو خوری بر زيان مال افسوس

همه دعوی کنی و خايی ژاژ

در همه کارها حقيری و هاژ

د برهان قاطع ليکوال او هم اسدی د لغت فرس قديم ژب پوهاند د دغي کلمې معنی متحير او فرومانده او خاموش او درمانده ليکي چي هاژو او هاژه او هاژيدن هم له دغي ريښې څخه راوړي (لغت فرس ص ١٧٦؛ برهان قاطع ج ٤، ص ٢٣٠٧).

داکلمه په ښکاره د پښتو "هيښ" ده چي کټ مټ هغه معنی لري، او هيښېدل هم هغه هاژيدن دئ.

کندهاريان وائي: پلانی هيښ پيښ ولاړ دي يا ئي سترګي هيښي نيولي دي. شيخ متي (کلات بابا) ويلي وه:

دلته لوي غرونه زرغونيږي

سترگي ليدو ته ئې هيښيږي

نو هغه هاژ اوس د هيښ به شکل کښي موجود دي چي (ژ په ښ) اوښتې ده.

## گرم

دا کلمه اوس په پښتو گروم ده، يعنی اندوه او غم، رودکی دا کلمه د (۳۰۰ هـ حدود) داسي استعمالوي:

هرکه سر از پند شهريار بپيچيد

پای طرب را بدام گرم در افگند

فردوسی ويلي وه:

ز چنگال يوزان همه دشت غرم

دريده برو دل، پر از داغ و گرم

شمس المعالی قابوس د وشمگير ديلمی زوي ويلي دي:

شش چيز ديگر نگر وطنشان دل من

عشق و غم و درد و گرم و تيمار و حزن

## غرنگ

په پښتو اوس غړانگه د اوښ ږغ يا هغه ته ورته ناره ده، غړانگي وهل په لوړ او بد آواز فرياد کول دي. خسرواني د فارسي قديم شاعر (د ۳۵۰ هـ حدود) وائي:

رخت ديد نتوانم از آب چشم

سخن گفت نتوانم از بس غرنگ

په لغت فرس کښي د منجيک ترمذي دا بيت هم راغلي دئ:

بخروش اندرش گرفته غريو

بگلو اندرش بمانده غرنگ

## سوک

په پښتو سوکه يا څوکه ده، چي د غره څوکه يا د چاکو څوکه وايو، په دري فارسي کښي د شاکري بخاري (د ۳۰۰ هـ حدود) په يو بيت کښي دا کلمه راغلې ده چي دکتر صفا د ايران د ادبياتو تاريخ مؤلف (ج ۱ ص ٤۰۱)

ئې معني په تقریب او تخمین (خار خوشهٔ گندم و جو) لیکلي ده، خو دا معنی عجبه غوندي ښکاري ځکه چي د غنمو وږي خو اصلاً اغزی نه لري اما لږځه زیږ وي، نو دا کلمه دغه څوکه ده، شاکري وائي:

اندام دشمنان تو از تیر ناوکی

مانند سوک خوشهٔ جو باد آژده

چي دلته هم د وږي څوکه مقصد ده.

## خه

دا د تحسین کلمه اوس هم په پښتو کښي وایو (خه=ښه) مستعمله کلمه ده. شهید بلخي د رودکي په مدح کښي وایي:

شاعرانرا خه و احسنت مدیح

رودکی را خه و احسنت هجیست

## کباره

دا کلمه اوس په کندهار کښي کواره ده، چی په اوسنۍ فارسي ئې سبد بولي، دغه د لښتو کوارې چه انگور پکښي راوړي تر اوسه هم سته، په پارسي ادب کښي دا کلمه کباره وه. ناصر خسرو علوی قبادیانی وائي:

ترا این تن یکی خانه سپنجست

مزور بل مغربل چون کباره

کواره خو سورۍ وي نو ځکه مزور او مغربل بلله شوې ده.

کابل مجله، ص ۲۱-۲٤، ج ۱۰، گڼه ۳۱، ۱۳٤۰ ش کال